# Language Variation and Change

# ژبنی توپیر او بدلون

**Prof. Dr. Rafiullah Niazai***

**ABSTRACT:**

The history of human society study shows the phenomenon either vary or change, Its forms over the time and era. The human language is also part of this process, which is varied over the time and era, and there is no evident that the human language is to be exceptional of the international law of varying phenomenon.

This paper examines what is the language variation, change and development. How the variation, change and development can be evolved in language and what are the factors?

**Key words:** Language, Language change, Language Variation, Language structure.

د انساني ټولنې د تاریخ له مطالعې څرګندېږي چې د وخت له تېرېدو سره نړدې ډېرې پدیدې بدلون مومي او پخوانۍ بڼې یې لړې یا ډېرې بدلېږي؛ د نورو پدیدو ترڅنګ په انساني ژبو کښې هم د وخت په تېرېدو سره بدلونونه رامنځته کېږي او هېڅ داسې دلیل نشته چې انساني ژبه دې د پدیدو د بدلون له دې نړیوال قانون څخه مستثنی وګڼل شي. په دې لیکنه کښې پر دې څېړنه شوې چې ژبنی توپیر او بدلون څه ته وایي، په ژبه کښې توپیر، بدلون او تحول څه ډول رامنځته کېږي او د رامنځته کېدو لاملونه یې کوم دي؟

د نړۍ ټولې ژوندۍ ژبې بدلون کوي او په واقعیت کښې مجبوره دي چې بدلون وکړي، ځکه ژبې له خپلو ویونکو څخه جلا او مستقل ماهیت نه لري، نو چې انسانان تل د تغییر په حال کښې وي، ژبې یې هم تغییر کوي، یوازې مړې ژبې دي چې تغییر نه کوي.(۱)

د یوې ژبې د تکامل او د هغې د بدلون او تحول په بهیر کښې یوه څرګنده خبره دا ده، چې ژبه له څنډ پرته تغییر کوي او خپل تغییر ته ادامه ورکوي، ځکه نو ژبې تل د بدلون په حالت کښې وي.(۲)

د وخت په تېرېدو په ژبه کښې نوې کلمې منځ ته راځي، د ژبې ځینې

---

* Center of language and Literature, Afghanistan sciences Academy.

کلمې زړېږي، له ګټې اخیستې او کارولو څخه لوېږي، په تدریجي ډول له منځه ځي یا متروکښې کېږي. ځینېکلمې خپله مخکنۍ معنا له لاسه ورکوي، نوې معناوې خپلوي او یا د خپلې ځانګړې معنا ترڅنګ بله معنا مومي او ځینې کلمې له نورو ژبنیو بدلونونو سره مخامخېږي. د ژبو د بدلون دغه پروسه په یوځایي ډول په یو وخت او زمان نه رامنځته کېږي، بلکې کرار کرار د وخت په اوږدو کښې د یوې ژبې د ویونکو په بېلابېلو مېشتځایونو کښې د بېلابېلو عواملو له امله په بېلابېلو بڼو منځ ته راځي.

په ژبه کښې ژبنی، توپیر، بدلون او تحول همېشه او دوامدار وي، خو په غالب ډول د درک او مشاهدې وړ نه وي. دا توپیر او بدلون دومره سوکه واقع کېږي، چې په یوه یا دوو انساني نسلونو کښې د ژبنیو قاعدو او شکلونو ځای پرځای کېدل ان د لیدو وړ نه وي، خو دا بدلون داسې وي چې موږ پوهېږو په غالب ډول له موږ وړاندې او وروسته نسلونه په متفاوت ډول خبرې کوي او ان له هغې ژبې سره چې موږ یې د خپلو اړتیاوو لپاره په اوسمهال کښې کاروو بېله بڼه او قواعد لري. کله چې یوه ژبه په یوه زماني مهال کښې د هماغې ژبې له څو کاله مخکښې دودې ژبې سره په پرتلیز ډول وڅېړل شي، نو د ژبې د کلمو په بېلابېلو برخو کښې ژبنی توپیر، بدلون او تحول له ورایه څرګندېږي.

## ژبنی توپیر(Language variation)

ژبه د اړیکو نیولو یوه داسې وسیله ده چې خلک سره نږدې کوي یا یې بېلوي. ژبه انسانان په ټولنیز لحاظ سره شریکوي، دغه شراکت د دې لامل ګرځي چې په ژبه کښې توپیرونه رامنځته شي، بدلون وکړي، متروکه شي یا نورې ژبې ترې وزېږي. ژبپوهنیز توپیر هغه سیمه ییز او ټولنیز توپیر څېړي چې د یوې ځانګړې ژبې په کارونه کښې رامنځته کېږي. ژبنی توپیر د ټولنیزې ژبپوهنې اصلي موضوع ده، په ټولنیزه ژبپوهنه کښې د ژبني جوړښت او د اجتماعي جوړښت پر پیوستون بحث کېږي. عمر، جنس، ټولنیز او معیشیتي وضعیت، مذهبي اړیکې، قومیت، دنده او د سکونت سیمه هغه لاملونه دي، چې په ژبه کښې د بدلون لامل ګرځي.(۳)

په علمي لحاظ ژبنی توپیر په ټولنیزې ژبپوهنې پورې تړلې موضوع ده،

ځکه چي دا توپير سيمه ييز جغرافيايي او ګړدودي وي او د ژبې ټول اړخونه، لکه فونيمونه، مورفيمونه، نحوي جوړښت او معنا د ژبني توپير په موضوعاتو کښې شامل وي، چي د خبرو پر مهال ښايي په تلفظ، کلمو او يا ګرامري برخه کښې واقع شي. سيمه ييز توپير داسې وي، لکه يو شخص له خپلې سيمې څخه لرې بلې داسې سيمې ته ولاړ شي چي هلته هم خلک د ده په مورنۍ ژبه خبرې کوي، د هغې سيمې خلک چي د ده خبرې واوري پوښتنه ورته پيداکېږي، چي دا شخص به د کوم ځاي وي، ځکه هغوی ته د ده د ګړېدو ژبه لږه بدله ښکاري؛ ښايي څوک دا پوښتنه ونه کړي خو دغه شخص ته پخپله هم دا اندازه لګي، چي د دې بېګانه سيمې خلک په هغه ژبه خبرې کوي، چي د ده مورنۍ ژبه ده او دی پرې په خپله سيمه کښې خبرې کوي، خو د ده او د دې بېګانه سيمې د ويونکو په ژبه کښې لږ توپير ليدل کېږي، وجه دا ده چي يوه ژبه ده، خو چي د همدې ژبې د ويونکو بلې سيمې ته ورشي هلته به لږه مختلفه وي. د ژبې دغه ډول مختلف صورت يا اختلاف ته اصطلاحي توپير(Variation) او په ژبپوهنه کښې ورته ژبنی توپير(Language variation) ويل کېږي.(۴)

يعنې په ژبه کښې د جغرافيايي سيمې له تعلقه پيدا شوي همهمالي(Synchronic) توپير ته (Variation) ويل کېږي او د تاريخ په اوږدو(Diachronic) کښې پيداشوې تاريخي تبديلي ته بدلون(Change) وايي.

د توپير(Variation) مثال: په يوه دوره، يعنې يوه ټاکلي مهال کښې په يوه ژبه کښې رامنځته کېدونکی تغيير، لکه د پښتو ژبې د بېلابېلو سيمو د ويونکو په ژبه کښې چي لږ او ډېر لهجوي توپيرونه شته، چي د خبرو اترو پر مهال ورته پام ورګرځي، لکه د کندهار او پېښور يا د نورو پښتون مېشتو سيمو په پښتو ژبه کې، چي څه ناڅه ګړدودي توپيرونه ليدل کېږي.

### ژبنی بدلون (Language Change)

په ژبپوهنه کښې يوه بله اصطلاح هم کارول کېږي، هغې ته بدلون (Change) وايي. ژبنی بدلون د وخت په اوږدو کښې د يوې ژبې په ځانګړنو کښې راپېښېدونکي بدلون ته ويل کېږي او د ژبپوهنې په بېلابېلو څنګزنو څانګو، لکه په تاريخي ژبپوهنه، ټولنيزه ژبپوهنه او په ځينو نورو برخو کښې مطالعه کېږي. په

ښکاره خو ژبنی توپیر او ژبنی بدلون دواړه اصطلاحات یو ډول ښکاري، خو د دواړو په مفهوم کښې څه توپیر شته. د ماضي او د حال په ژبه کښې چې کوم بدلونونه راځي، هغو ته په ژبپوهنه کښې ژبنی بدلون (Language Change) وايي او په یوه وخت یا زمانه کښې د یوې ژبې په مختلفو سیمو یا طبقو کښې د ویینګ مختلف صورت ته ژبنی توپیر(Language Variation) وايي.(۵)

د جغرافیایي او ټولنیزو طبقو له امله چې په ژبه کښې کوم توپیر پیداکیږي، له دغه توپیر (Variation) څخه د وخت په تیریدو ژبنی بدلون(Change) جوړیږي، یعنې په ژبه کښې بدلون (Change) زماني او تاریخي وي او د توپیر (Variation) اصطلاح د مکاني او جغرافیایي توپیر د روښانه کولو لپاره کارول کیږي.(۶)

په ژبه کښې بدلون(Change) په هر لحاظ وي، یعنې په قواعدو، الفاظو او د تلفظ او د الفاظو په زیرمه کښې ډیر څرګندیږي، چې بالاخره د پیړیو په اوږدو کښې لومړی ژبني توپیرونه رامنځته کیږي، د وخت په تیریدو سره ژبني توپیرونه پر ژبني بدلون اوړي او بیا د وخت په تیریدو سره ژبني بدلونونه په ژبو کښې د تحول باعث ګرځي.(۷)

د ژبې د بدلون په اړه ډیرې نظریې شته، خو هیڅ نظریې او تیوری د ژبې د بدلون ټولو اړخونو ته بشپړ ځواب نه دی ویلای، په دې برخه کښې په ټوله کښې دوه ډوله نظریې شته: لومړی هغه نظریې چې په غریز بدلون راټولې دي او بل لور ته په ګرامري او لغوي بدلون راڅرخي. دویم، هغه نظریې چې د ژبې پر داخلي او بهرنیو عواملو باندې راڅرخي، خو پر دغو نظریو سربیره د نویو ګرامر پوهانو( New Grammarians) نظریه بیا د نورو هغو پر تله لږ څه واقعیت ته نږدې ده. نوي ګرامر پوهان په دې اند دي، چې ژبني بدلونونه نابېره او یو مخیز نه وي، بلکې ژبه د وخت په تیریدو سره بدلون کوي. لومړی یو معیاري ګړدود یا ژبه په فرعي ګړدود یا ګړدودونو بدلون مومي او بیا د نورو بېلابېلو ګڼو عواملو له کبله په یوه بله او مستقله ژبه بدلیږي.(۸)

ځینې ژبپوهان وايي ژبنی بدلون د یوې ژبې د کیفیت د خرابوالي لامل ګرځي، خو نوې ژبپوهنه په معمول ډول دا مفهوم نه مني، ځکه چې له علمي اړخه

دا ډول بدعتونه نه شي کېداي چي ښه یا بد اوسي. د بدلون(Change) مثال، لکه: په انګرېزي ژبه کښې د زرو کلونو پخواني لیکلی متن چي اوس د انګرېزي ژبې د ویونکو مخې ته کېښودل شي، نو د هغې پر ډېره برخه نه پوهېږي، ځکه هره ژبه له وخت سره بدلون کوي، له خپلې قدیمې یا ابتدایي بڼې څخه بالکل مختلفه کېږي، چي دې ته ژبنی بدلون (Language Change) وايي؛ ځکه ژبه ډېره بدله شوې، په پخوانۍ او اوسنۍ ژبه کښې ډېر بدلون راغلی او د دغه ډول بدلون(Change) بیان بالعموم په تاریخي ژبپوهنه کښې کېږي.

نورې بېلګې،لکه: ویدیک، سنسکریت او اوسنۍ اریايي ژبې، لرغوني سلاویک او اوسنۍ سلاویک ژبې او داسې نور. د پښتو ژبې د لرغونې دورې متون، الفاظ او ګرامري جوړښت هم لږوډېر بدلونونه لري، همدا راز په پښتو ژبه کښې که د ځینو ګړدودونو(وڼيځي، ترینو) په اړه بشپړه څېړنه وشي، ښايي د ژبني بدلون تر بریده رسېدلي اوسي.

## ژبنی تحول:

د بېلابېلو ټولنیزو، جغرافیايي، ګړدودي او نورو لاملونو له امله چي په ژبه کښې ژبني توپیرونه رامنځته کېږي، د وخت په تېرېدو سره پر ژبني بدلون اوړي، خو پر ژبني بدلون چي ډېر وخت واوړي بیا ژبنی تحول رامنځته کوي. ژبنی تحول داسې حالت وي، چي په هغې کښې په بشپړ ډول یوه ژبه پر بلې ژبې یا ژبو اوړي. د ژبني توپیر، بدلون او تحول په نتیجه کښې د نړۍ ځینې ژبې له منځه تللې، هغو ژبو چي پیاوړی فرهنګي ملاتړ يې درلود د تحول په نتیجه کښې ترې نورې ژبې زېږېدلي او نن سبا ځینې ژبې لرغونې، منځنۍ او معاصرې ژبنۍ دورې لري، ځینې يې لرغونې او معاصرې بڼې لري، لکه: لرغونې اریک: ارياني، دادریک او اریايي ژبې. لرغونې اوستا او نورې ارياني ژبې، پښتو، دري، میتي او نورې. لرغونې اریايي: ویدیک، سنسکریت، هندي، پنجابي، ګجراتي، مراټي، سندهي، اردو او نورې ژبې.

د ژبې جوړښت او ژبنی بدلون( Structure of Language and Language Change)

ژبه په ټوله کښې دوه ډوله جوړښت لري، یوه ته يې باندنی جوړښت

(Surface Structure) وايي چې د يوې ژبې ظاهري بڼه او هغه الفاظ پکښې شامل وي، چې په وينا يا ليکنه کښې کارول کېږي او بل يې ژور يا بېخبنايي جوړښت (Depth Structure) دی چې ټول معنايي ابعاد په هغې پورې تړلي دي، ځکه چې ژبه د لغاتو په ترکيباتو او مفرداتو يا د صرف او نحوې په قواعدو منحصره نه ده، بلکې ټولې(Semantic) برخې پکښې شاملې دي.

ژبه د ټولنيز ژوند او سيستم له پرمختګ سره پخپله ورو ورو بدلون مومي. ژبنی بدلون داخلي او باندنی وي، د يوې ژبې داخلي بدلونونه د تاريخي ژبپوهنې په اډانه کښې د هغې ژبې د تاريخي تحول او پرمختګ د مطالعې په اساس مطالعه کېږي او بهرني بدلونونه يې د ټولنيزې ژبپوهنې په اډانه کښې د ټولنيز ژوند د بېلابېلو برخو د مطالعې په نتيجه کښې څرګندېږي. که د يوې ژبې لرغوني يا منځني مروج يا متروک متون د هغې ژبې له اوسنيو متونو سره پرتله شي، نو املايي، مورفولوژيکي، سيمانتيکي او لغوي بدلونونه پکښې تر سترګو کېږي. د نړۍ هره ژبه چې په تاريخي لحاظ مطالعه شي، نو څرګندېږي چې د ژبو په تاريخچه کښې بدلون، تغير او تحول هر اړخيز او همېشه، يعنې دوامدار وي، چې پر کلمو او د ژبې د ګرامر پر ټولو اړخونو، لکه پر غږپوهنه، صرف او نحوه باندې اغېز کوي.

ټولې هغه ژبې چې د ليکلو مهمه تاريخچه لري؛ لکه لاتين، سنسکرېټ، زړه انګرېزي او ځينې نورې، په دوی کښې د وخت په تېرېدو سره بدلون رامنځته شوی، ځکه د دغو ژبو اوسني ويونکي د دغو ژبو لرغوني متون نشي لوستلای او نه پرې پوهېږي. په ژبه کښې بدلونونه په دوه ډوله وي، دننني بدلونونه ( Internal Change) او باندني بدلونونه (External Change) چې په لاندې ډول دي:

## ۱. د ژبې د بدلون دننني لاملونه (Internal Change of Language)

ژبو همېشه په تېر مهال کښې بدلون کړی او په دې کښې شک نشته، چې په حال زمانه کښې هم خپلو بدلونونو ته ادامه ورکوي. د ژبني بدلون پايله کله کله داسې شي، چې د ويونکو ترمنځ اړيکي نيول ستونزمن شي. د ژبې د بدلون ځانګړنې دا څرګندوي، چې بدلون او تحول ښايي مضر او زيان رسوونکی نه وي او په ژبه کښې بدلون ضروري او الزامي او ان ښايي ګټور وي. په ټولیز ډول دننني

بدلونونه چي د ژبې په مختلفو برخو کښې رامنځته کېږي، غږیز، ګرامري او لغوي بدلونونه پکښې شامل دي، د ژبې د غږیزو یا تلفظي، ګرامري او لغوي بدلونونو سرعت یو ډول نه وي. ژبپوهان غږیز بدلونونه په څو همرنګو ډلو، د غږونو په حذف، ډېرېدو، قلب یا ځای پرځای کولو وېشي. ژبني بدلونونه او تحولات د ژبې د تاریخ په اوږدو کښې یو شان نه وو، لوړې ژورې یې درلودې، په هر وخت او د جغرافیې په هرځای کښې هم په یوه اندازه او یو ډول نه وو. د ژبې په دننني بدلون کښې تر ټول لومړي فونولوژیکي اوښتنې مطالعه کېږي.

مورفو- فونولوژیکي اوښتنې( Morph phonological Changes )

مورفو- فونولوژیکي اوښتنې یا بدلونونه دې ته وایي چي یو اواز په یوه څپه یا کلمه کښې له مخکښې یا وروسته اواز سره همرنګی شي.

دغه اوښتنې په څپېزو، مورفیمیزو او لغوي چاپېریالونو کښې د هغو فونیمونو تر منځ پېښېږي، چي په عین وخت کښې ناخپلواک مورفیمونه هم دي. له همدې امله ورته مورفو- فونولوژیکي اوښتنې وایي.(۹)

دغه اوښتنې زیاتره وختونه د معنا د بدلون سبب نه ګرځي، بلکې په دغو اوښتونو کښې فونیمونه د فونیتیکي خاصیتونو له مخې یا سره همرنګي کېږي یا سره اوړي یا په خپل منځ کښې ناهمرنګي ښیي، یا همرنګي غږونه په یو بل کښې مدغمېږي او یا هم یو فونیم غورځي، خو ځیني وختونه د ګرامري معنا د بدلون سبب هم ګرځي، لکه د (خور) او(خوړ) په کلمو کښې چي (خور) د حال زمانې ولې ده کله چي تېرې زمانې ته اوړي په (خوړ) بدلېږي، یعنې (ر) پر (ړ) اوړي، دغسې اغوند او اغوست یې هم بله بېلګه کېداي شي. مورفوفونولوژیکي اووښتنې لاندې ډولونه لري.

**۱. همرنګي** (Assimilation)

چي په یوه چاپېریال کښې یو فونیم بل فونیم د فونیتیکي ځانګړنو له مخې د ځان په رنګ کړي یا فونیم له بل فونیم څخه فونیتیکي خواص واخلي. همرنګي لاندې ډولونه لري:

پرمختګې همرنګي (Progressive assimilation)

چي یو اواز په خپل چاپېریال کښې له مخني اواز سره همرنګی شي، لکه د (منه= maṇa ) او (رڼا=raṇā ) په کلمو کښې د (زور=a) او (الف=ā) غږونه چي د

(ڼ=ṇ) اواز له ځان سره پزیز کړي.(۱۰)

یا لکه (بخښل+ ښ) چي په شمالختیزو ګړدودو کښې سره یو په بل کښې مدغم ( خ+ ښ= خ) شوي او بخښل پر بخل اوښتي دي.

پرشاتګې همرنګي(Regressive assimilation)

چي په یوې څپې، ګړ یا کلمه کښې یو اواز د وروستي اواز تر اغېز لاندې راشي او د هغه په رنګ شي، لکه د (پومبه = pumba) او (تنبه = tanba) په ویونو کښې چي په اصل کښې (پونبه = punab) او (تنبه = tanba) دي، د (ب= b) د اغېز له کبله چي غبرګشونډیز غږ دی، د (ن= n) فونیم چي یو غاښیز فونیم دی، غبرګشونډیز کېدل، یعنې د تلفظ په وخت کښې (م = m) ته نېږدې تلفظ کېږي یا بېخې پر (م = m) چي دا هم یو غبرګشونډیز فونیم دی، اوړي.

ګاونډه همرنګي (Neighbor assimilation)

چي یو اواز په خپل چاپېریال کښې له خپل (مخنې یا وروستني) اواز سره همرنګی شي. له مخني سره، لکه د ( ماما = māmā) په ویي کښې د (م = m) د اغېز له کبله چي یو پزیز غږ دی د (الف = ā) واول پزیز کېدل. له وروستني فونیم سره، لکه د (تنبل= tanbal) په ویي کښې د (ب= b) فونیم چي یو غبرګشونډیز فونیم دی د (ن = n) فونیم چي یو غاښیز غږ دی، شونډیز کېدل.

ناګاونډه همرنګي( Disneighbor assimilation )

چي په یوې څپې، ګړ یا ویي کښې یو اواز له یو داسې مخني یا وروستني اواز سره همرنګی شي، چي په ګاونډ کښې یې نه وي. په دې کښې هم پرمختګې او پرشاتګې نا ګاونډه همرنګي شته. د پرمختګې ناګاونډې همرنګي بېلګه، لکه د (نونس= nunas) په ویي کښې چي له اره (نولس= nulas) دی. د لومړي(ن= n) د اغېز له کبله چي یو(غاښیز پزیز او غږن) غږ دی. د (ل=l) د فونیم چي یو (اوریز، اوبلن، غږن) دی غاښیز او پزیز کېدل، یعنې بېخي په (ن= n) اوښتل. د پرشاتګې ناګاونډې همرنګۍ بېلګې، لکه د (ډیري= ḍiri) په ویي کښې چي په اصل کښې (ډېري= ḍeray) دي، ځکه چي دغه ستاینوم له (ډېر= ḍer ) کړول څخه د لنډې (ي= i) د لومړۍ څپې اوږده (ې= e) له ځان سره همرنګې کړې، یعنې له منځوال واول څخه یې د خپل ځان په رنګ په لوړ واول اړولې ده. د پرشاتګې ناګاونډې همرنګۍ

ساري، لکه په یو نیم ګړدود کښې چې زنځیر پر ځنځیر اوښتي دي.

ناهمرنګي (Dissimilation)

د مورفو- فونولوژیکي اوښتنې هغه ډول دی، چې په یوه ژبني چاپیریال (ځپې ګړ، ویي) کښې همرنګه اوازونه سره ناهمرنګه شي، لکه د (زما = zmā ) په کلمه کې، چې په اصل کې( دما= damā ) دی، د (د= d) غږ چې یو غاښیز تم غږ دی په (ز= z ) چې یو اوریز موښلی فونیم دی اوړي، په دې توګه د خولې ییزو تمو غږونو یعنې(د) او(م) پرلپسېوالی ختمېږي او د (ز= z) او(م) ترمنځ ناهمرنګي رامنځته کېږي، یعنې موښلې( ز) له پزیز(م) سره د کلمې د سر کلستر جوړوي او یا هم د (لمونځ) په کلمه کښې چې له اره (نمونځ) دی، د نومورې کلمې لومړنی (ن) پر (ل) اوړي په دې توګه د پزیزو کانسونتټونو تسلسل ماتېږي او ناهمرنګي رامنځته کېږي. ناهمرنګي هم پرمختګي او شاتګي، ګاونډه او ناګاونډه کېدای شي.

**۲. غږیز بدلون** (Sound Changes)

په ژبنیز بدلون کښې یوه تر ټولو ستره پدیده غږیز بدلون دی. په ټولو ژبو کښې له لرغونې بڼې څخه منځنۍ او بیا اوسنۍ بڼه د وییزو بدلونونو ترڅنګ تر ټولو ستر لامل له غږیز بدلون څخه سرچینه اخلي. غږیز بدلونونه بېلابېلې بڼې او ډولونه لري، چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

اوړون یا قلب (Metathesis)

هغه غږیز بدلون ته وايي چې د یوې ځپې، ګړ، یا ویي د اوازونو په اوډون او ترتیب کښې پېښېږي، یا په یوه کلمه کښې د دوو غږونو ځایي ادلون بدلون وړاندې وروسته والي ته قلب وايي. (۱۱)

لکه په ځمکه- مځکه، روځ- ورځ، ږغ- غږ، ولېشت- لوېشت، ماغزه- مازغه، ازغي- اغزي، پسرلي- سپرلي، او ځینو نورو کلمو کښې.

غورځېدل - حذف (Omission)

هغه غږیز بدلون ته وايي، چې د کلمې په سر، منځ یا پای کښې رامنځته کېږي، یعنې د کلمې له سر، منځ یا پای څخه یو غږ یا فونیم لوېږي او د وخت په تېرېدو سره په کلمه کښې بدلون راځي، دغه بدلون کېدای شي د یو فونیم یا هم د یوې ځپې په بڼه رامنځته شي، لکه پېړ(پرېړ)، ړه( زړه) کې، یا لکه له سیند ، سپند

او دروند کلمو څخه د (د) لوېدل او د (سین، سپن او درون) ویل، یعنې د کلمو په تلفظ کښې د ځان د اسانتیا لپاره یو توری حذفېږي، دغه ډول غږ لوېدنې، غورځېدنې یا حذفېدنې ته په ژبپوهنه کښې هاپولولوژي (Haplology) وايي.(۱۲)

ډ ېرېدل (Addition)

هغې پېښې ته وايي چې په یوه ژبني چاپېریال (ځپې، ګړ یا ویې) کښې یو اواز د یوه خواږه اهنګ په توګه زیات شي، پرته له دې چې کوم مورفو-فونولوژیکي بدلون پېښ کړي.(۱۳)

لکه د (ن) زیاتېدل تر(ګ) د مخه په منګر (مګر) او د (مونږ) په ویې کښې چې اره بڼه یې (موږ) ده، یا د (د) زیاتېدل په (چمند او ارماند) کښې چې آرې بڼې یې چمن او ارمان دي.

غږ زیاتوالی (Epenthesis)

غږیز زیاتوالی د کلمې په منځ، سر یا پای کښې رامنځته کېږي. د کلمې په سر کښې د غږیز بدلون نخې د پښتو په ( ړوند- وړوند ، رون- ورون، ړه- زړه، رور- ورور) کلمو کښې لیدل کېږي، چې د کلمو په پیل کښې د ګړدودیز بدلون یا ویناییزې اسانتیا له کبله په ترتیب سره (و او ز) فونیمونه د ارو ویونو په سر کښې ورزیات شوي، خو په ژبپوهنه کښې (Epenthesis) عملیې ته منځنۍ زیاتېدنه وايي، یعنې هغه غږیز بدلون چې د کلمې په منځ کښې رامنځته کېږي، لکه: بېلابېل، غالمغال، رنګارنګ، مخامخ... په دغو ترکیبو کلمو کښې د لومړۍ برخې په پای کښې ( الف یا م) غږ ورزیات شوی، چې اصلي کلمې (بېل، غال، رنګ او مخ) ته یې مانیز بدلون ورکړی دی.(۱۴)

## ۳. نحوي بدلون (Syntactic Changes)

هغه بدلون ته وايي، چې د یوې ژبې په نحوي جوړښت یا د جملو په جوړښت کښې راپېښېږي، د پښتو ژبې د لرغونې دورې د نثر د ځینو جملو جوړښت له عربې ژبې څخه اغېزمن شوی، لکه: تهاکښې مې وچادلې د پښو، (لرغونې پښتو). په اوسنۍ پښتو کښې دا جمله داسې لیکل کېږي: د پښتو تهاکښې مې وچادلې.

که د پورته جملې جوړښت ته وکتل شي، نو د نحوې په لحاظ په لرغونې او اوسنۍ پښتو کښې ډېر توپیر لیدل کېږي. د پښتو ژبې د اوسني نحوي جوړښت

له مخې جمله باید د (فاعل+ مفعول+ فعل یا (SOV) ترتیبي بڼه ولري؛ خو که په لرغونې دوره کښې د ډېرو جملو جوړښت ته پام وکړو، نو د (مفعول+ فعل+ فاعل(OVS) په ترتیب شوې، چې له اوسنۍ بڼې سره ډېر توپیر لري پکښې لیدل کېږي، نو دغسې نحوي بدلون ته (Syntactic Change) وايي.

**۴. مانیز بدلون** (Semantic Change)

هغه بدلون ته وايي، چې د وخت په تېرېدو سره د یوې ژبې په کلمو کښې مانیز بدلون رامنځته شي، لکه یوه کلمه پخوا په یوه معنا او د یوه هدف او موخې لپاره کارېدله، د وخت په تېرېدو سره یې معنا غځېږي د دوو یا څو هدفونو لپاره هماغه یوه کلمه کارول کېږي، لکه د (هسک) کلمه چې پخوا یوازې د اسمان لپاره کارېدله، خو نن سبا د هر لوړ دنګ ځای، غاړې او وقار په معنا هم کارول کېږي، چې دې ته په ژبپوهنه کښې مانیزه ارتېدنه (Broadening of Meaning) وايي. یا دا چې پخوا یوه کلمه د دوو یا څو معناوو لپاره کارېدله، خو اوس یوازې په یوه مفهوم او معنا کارول کېږي، لکه د (ښځه) کلمه په پښتو کښې په پراخه معنا د هر مونث جنس لپاره کارول کېږي، خو که ټاکلې معنا ته یې راشو، نو بیا هغه مونث جنس ته ویل کېږي، چې بلوغ ته رسېدلې او واده شوې مېرمن وي، دې ته په ژبپوهنه کښې مانیزه تنګېدنه (Narrowing of Meaning) وايي.

۲. د ژبې د بدلون باندني لاملونه (External Change of Language)

له دې امله چې ژبه له ټولنې سره ډېره تړلې او په ټولنه کښې د اړیکو ټینګولو لپاره کارول کېږي، نو له شک پرته ټولنیز عوامل د ژبې په بدلون او تغیر کښې مهم رول لري. د ژبې د بدلون او تحول په برخه کښې د ژبې د دنننې بدلون او تحول ګواښ له پامه د غورځېدو نه دی، خو په دې برخه کښې د ژبې باندني بدلونونه ډېر پیاوړي، اغېزمن او ژر پېښېدونکي دي، په ځانګړي ډول په اوسنۍ صنعتي او تولیدي نړۍ کښې.

د ژبې باندني بدلونونه او پرمختګونه د ټولنې پرمختګ او بدلون ته په کتو سره د پېښېدونکو ټولنیزو کلتوري فکتورونو د اغېزو په اړه کښې د ټولنیزې ژبپوهنې (Sociolinguistics) د اصولو په رڼا کښې مطالعه او روښانه کېږي. د ژبې باندنی بدلون د یوې ژبې له بلې ژبې سره په رابطه کښې چې هلته

انسانان په اتنيکي لحاظ د يوه ملت په توګه له يو بل سره په کلتوري لحاظ ګډ ژوند کوي رامنځته کېږي.

ژبنی اوښتون او بدلون يوه طبيعي پديده ده، چې د بېلابېلو لاملونو له امله رامنځته کېږي. که دوه نږدې کلي سره په پام کښې ونيول شي، ترمنځ يې څه ناڅه ګړدوديز توپيرونه ليدل کېږي، خو د همدغو کليو ويونکو ته د خپلې ژبې خپلمنځي توپيرونه دومره نه ښکاري. د وخت په تېرېدو او د واټن په رامنځته کېدو سره د يوې ژبې د دغو ويونکو تر منځ چې په دوه نږدې خو بېلو کليو کښې اوسي ګړدوديز او ژبني توپيرونه ورو ورو ډېرېږي. هر څومره چې د دواړو کليو تر منځ راشه درشه او راکړه ورکړه زياته وي، ژبني او ګړدوديز توپيرونه يې لږ، خو که ترمنځ يې تګ راتګ ټکنی او تت وي، نو بيا ګړدودويز توپير يې ډېرېږي؛ بالاخره د دواړو ترمنځ يوه ګړدوديزه پوله رامنځته کېږي، دغه پوله ښايي له غرېز او مانيز پلوه يو ګړدود له بل څخه جلا کړي. د واټنونو زياتوالی د ګړدودونو يو پر بل دوه اړخيزې اغېزې کموي، خو کموالی يې د همرنګي او نږدېوالي ښکارندويي کوي.

د ژبې په باندني بدلون او تحول کښې ګڼ دلايل او لاملونه په ګوته شوي، ځيني لاملونه تر ډېره برېده منل شوي او د ځينو په اړه لاهم په ژبپوهنيز چاپيريال کښې د ژبپوهانو تر منځ همغږي نشته، دلته د ژبې د باندني بدلون ځينې لاملونه راوړل شوي، چې په ټولنيز لحاظ يې د ژبو په بدلون کښې ستر رول لوبولی دی.

## د کليمو زوړوالی

د قامونو د لرغونو شيانو او د لرغونو عقايدو اړوندې کلمې او نومونه د وخت په تېرېدو له ژبې څخه وځي او متروکېږي، ځکه چې ټولنيزه اړتيا يې کمېږي يا بالکل نه وي، خو ځينې کلمې د دود دستور او فولکلوري ارزښت په توګه په يو نه يو ډول پاتې کېږي. په دې برخه کښې يوازې د هغو ژبو د لرغونو شيانو او عقايدو اړوندې کلمې خوندي وي، چې له پخوا زمانو راهيسې يې ژبو ليک او کتابت درلود او ثبت کړې يې وي. د لرغونو شيانو او عقايدو اړوندې کلمې يوازې په قاموسونو او مذهبي متونو کښې خوندي وي، نور د کارونې ټولنيز حيثيت نه لري.

کله چې له کلمې يا مفهوم څخه کټه اخيستل متوقف شي، نو ويل کېږي چې منسوخ يا زړه شوې ده ، ځکه کله چې يو شی يا مفهوم ټولنې يا ادبي

څېړونکو او تاریخپوهان ته ارزښت ونه لري، نو دا مسله رامنځته کېږي.(۱۵)

**پورويېونه** (Borrowings)

له نورو ژبو څخه د بېلابېلو لاملونو له امله د کلماتو پوروونه هم په ژبه کښې د بدلون لامل ګرځي او ژبې معمولاً په غږيزه، وييزه، ګرامري او مورفولوژيکي برخه کښې له ګاونډو ژبو څه پوروونه کوي، لکه: کميس- قميص، خلک- خلق، اودس- ابدست، سوله- صلح، تپوس- تفحص او نور.

**هجرت یا کډوالي**

که د یوې ژبې یا د کوم ټاکلي ګړدود ویونکي خپله سیمه یا هېواد پرېږدي او بلې سیمې یا هېواد ته کډه شي، له داسې خلکو سره ګاونډیتوب غوره کړي چې ژبنی نږدېوالی او ورته والی ورسره نه لري یا یې لري. په دې حالت کښې د وګړو اکثریت ته کتل کېږي، یعنې د هغې ژبې ویونکي چې اکثریت دي؛ د دویمې ژبې ویونکي ترخپل اغېز لاندې راولي، د وخت په تېرېدو یې ژبه تر اغېز لاندې راځي او بدلون کوي. لکه پښتونخوا ، پاکستان او ایران ته د افغانانو کډوال کېدو د افغانستان په پښتو او دري ژبه کښې د ګاونډیو هېوادونو ایرانۍ پارسۍ او د پښتونخوا پښتو، همدا راز د اردو ژبې ډېرې ژبنۍ اغېزې لیدل کېږي.

**یرغلونه او تېري**

کله چې یو زبرځواک پر کمزوري هېواد یا ټولنه باندې تېری وکړي، هرڅه یې تالااو په اداري او نورو چارو کښې یې خپله ژبه د هغې ټولنې او هېواد د ژبې ځایناستې کړي، نو د کمزورې ټولنې ژبه په مرور د زمان سره د واکمنې ژبې او کلتور تر اغېزو لاندې راځي او بالاخره یې ژبه په غږیزه، وییزه او مانیزه بڼه کښې ډېر بدلونونه مني. هېره دې نه وي چې دغه ژبنی اوښتون او بدلون د پېړیو او کلونو په ترځ کښې رامنځته کېږي او کومه نابېره پېښه یې نه شو ګڼلای. لکه دسوېلې اسیا پر هېوادونو د انګرېزانو د یرغلونو او د منځنۍ اسیا پر هېوادونو د روسانو د یرغلونو په پایله کښې د سیمې بومي ژبې تر ډېره برېده له منځه ولاړې، د ځینو ژبو لیکدودونه بدل شول او د ځینو ژبو د لغاتو په زېرمه کښې خورا ډېرې بهرنۍ کلمې ننوتې، چې تر نن پورې د هماغو ژبو برخه دي.

**نیولوجیزم** (Neologism)

نویزونه هغه لغت، اصطلاح یا عبارت ته ویل کېږي، چې نوي جوړ شوي وي او پر یوه نوي مفهوم دلالت کوي، نیولوجیزم د اختراعاتو، نوو پدیدو یا د هغو زړو مفاهیمو د پېژندلو لپاره ګټور وي، چې په یوه نوي کلتوري قرینه کښې واقع شوي وي، خو کرار کرار نیولوجیزم هم د ژبې د بدلون لامل ګرځي.

**ګڼژبیزه ټولنه** (Multilingual Society)

په یوه هېواد یا ټولنه کښې چې د ډېرو ژبو ویونکي ګډ ژوند ولري، دغه ډول ټولنې ته ګڼژبیزه ټولنه ویل کېږي. د ژبو ترمنځ د ډېر مهال دوامدارې نږدې اړیکښې د هماغو ژبو د ویونکو په ژبو کښې د پراخ بدلون لامل ګرځي، په ځانګړي ډول چې یوه ژبه په سیاسي لحاظ او د ویونکو د شمېر د ډېروالي له امله پر بله ژبه په لوړ حیثیت کښې وي او اکثره وګړي په دواړو ژبو خبرې کوي. په ګڼژبیزه ټولنه کښې د بېلابېلو ژبو د ویونکو ترمنځ په ورځني ژوند کښې ډېرې اړیکښې ژبنۍ وي، په دوامداره توګه ددغه ډول ژبنیو اړیکو پاېدل بالاخره د ژبې په بدلون منتج کېږي، لکه په کابل کښې پښتانه، دري ژبي، ازبیکان، نورستاني، پشه یي، ترکمنان او نور چې ګډ ژوند کوي، نو په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي برخو کښې د واکمنو یا رسمي ژبو پر کمزورو ژبو اغېزې ډېرې وي، له همدغه امله په ژبه کښې بدلون رامنځته کېږي.

**ژبنۍ سیاست** (Language Politics)

د نړۍ هېوادونه په بېلابېلو جغرافیو وېشل شوي دي، دغه جغرافیایي وېش د نړۍ د بېلابېلو ژبو ویونکي سره وېشلي، یعنې نږدې د نړۍ ډېر هېوادونه د بېلابېلو ژبو ویونکي لري، خو په دومره توپیر چې په ځینو هېوادونو کښې د یوې یا دوه ژبو ویونکي نسبت نورو ژبو ته ډېر دي، نو د رسمي او دفتري چارو لپاره یې یوه ژبه رسمي یا ملي حیثیت لري او نورې ژبې سیمه ییزې ژبې وي، په ځینو هېوادونو کښې دوه ژبې رسمي وي او په ځینو هېوادونو کښې په بېلابېلو ولایتونو کښې بېلابېلې ژبې رسمي وي، نو ژبنۍ سیاست د هماغه هېواد له اساسي قانون څخه سرچینه اخلي، یعنې هغه ژبه چې په اساسي قانون کښې د رسمي یا ملي ژبې حیثیت ولري، نو الزاماً به په قوانینو، د زدکړو په درسي نصاب، رسنیو او دفتري چارو کښې یوه ژبه په لیک او کتابت کښې کارول کېږي. دغه ډول ژبې واکمنې،

حاکمې او د حکومت ملاتړ لري، چې حکومتونه يې د ودې او پیاوړتیا لپاره دوامداره هڅې کوي. دغه ډول ژبه د اړوندو هېوادونو د نورو مېشتو وګړو پر ژبو نېغه په نېغه اغېز کوي او دا اغېزې دوامداره وي، چې بالاخره په وړو ژبو کښې د ډېرو بدلونونو لامل ګرځي، لکه هندي ژبه په هندوستان اردو په پاکستان، پارسي په ایران، ترکي په ترکیه او ځینې نورې ژبې په نورو هېوادونو کښې دغه ډول حیثیت لري.

ژباړه

دا معمول ده چې په نړۍ کښې له یوې ژبې څخه بلې ته د اړتیا پر بنسټ ژباړې کېږي، په ځانګړي ډول په علمي برخه کې، خو په دې برخه کښې ډېرې ژباړې له پیاوړو علمي ژبو څخه نورو ژبه ته کېږي. د ژباړې د هنر د اصولو پر بنسټ ژباړن باید د دواړو ژبو په اړه پوره او کافي معلومات ولري او پخپله ژبه خو باید په بشپړ ډول برلاسی اوسي. کله کله داسې ژباړې په مسلکي ډول نه کېږي او په پایله کښې په ناسم ډول د نورو ژبو ژبني ترکیبونه، اصطلاحات او د ژبې نورې برخې داسې وژباړل شي، چې په دویمه ژبه کښې سمه معنا نه لېږدوي، یا د مبدا ژبې کلمې، اصطلاحات دویمې ژبې ته هم د ژباړې له لارې رانبباسي، نو دغه ډول ګډوډۍ بالاخره په ژبه کښې د بدلون لامل شي او د نورو ژبو ناسم اصطلاحات او ترکیبونه دویمې ژبې ته ورننوځي.

**رسنۍ، انټرنېټ او خواله رسنۍ**

د غربیزو، انځوریزو او چاپي رسنیو په برخه کښې د داسې کسانو ګومارنه او کار کول، چې په علمي او ادبي لحاظ د خپلې ژبې په اړه بشپړه پوهه و نه لري او هر څه له نورو ژبو څخه ژباړي، نو دغه چاره ژبې ته ډېر زیان رسوي او په تېرو شلو کلونو کښې پښتو ژبې ته له دې لارې ډېر زیان رسېدلای دی.

نن سبا چې د معلوماتي ټېکنالوژۍ دور دی او نړدې د ژوند په هره برخه کښې غوښنه برخه لري، نو د معلوماتي ټېکنالوژۍ په ډېرو برخو کښې د ژبې کارونې ته اړتیا پېښېږي، په دغه بهیر کښې د وخت د کمښت او د ژر پوهاوي راپوهاوي لپاره ژبني ترکیبونه، کلمې او جملې په لنډیز لیکل کېږي او دا چاره نن سبا ډېره عامه شوې، نو د ژبې دغه ډول کارونه هم په ژبه کښې ډېر بدلونونه راولي، خو د دې ترڅنګ خواله رسنۍ د یوې ژبې په عامېدو او معیاري کېدو

کښېږي هم مهم رول لري.

## پایله

ژبپوهنیز توپیر هغه سیمه ییز، ټولنیز او متني توپیر څېړي، چې د یوې ځانګړې ژبې په کارونه کښېږي رامنځته کېږي. ژبنی توپیر سیمه ییز جغرافیایي ګړدودي وي. په ژبه کښېږي چې د جغرافیایي او ټولنیزو طبقو له امله کوم توپیر پیدا کېږي، له دغه توپیر(Variation) څخه د وخت په تېرېدو ژبنی بدلون (Change) جوړېږي، یعنې په ژبه کښېږي بدلون (Change) زماني او تاریخي وي او د توپیر(Variation) اصطلاح د مکاني او جغرافیایي توپیر د روښانه کولو لپاره کارول کېږي. تحول د بېلابېلو ټولنیزو، جغرافیایي، ګړدودي او نورو لاملونو له امله چې لومړی په ژبه کښېږي ژبني توپیرونه رامنځته کېږي، دغه توپیرونه د وخت په تېرېدو سره په ژبني بدلون اوړي، خو پر ژبني بدلون چې ډېر وخت یعنې ان کله کله پېړۍ واوړي بیا ژبنی تحول رامنځته کوي. ژبنی تحول داسې حالت وي چې په هغې کښېږي په بشپړ ډول یوه ژبه پر بلې ژبې یا ژبو اوړي. ژبه دوه ډوله جوړښت لري، باندنی جوړښت چې ظاهري الفاظ پکښېږي شامل وي او ژور جوړښت چې د ژبې ټول معنایي ابعاد پکښېږي شامل وي. په ژبه کښېږي بدلونونه په دوه ډوله وي، دنني بدلونونه (Internal Changes) چې مورفولوژیکي اوښتنې، ( همرنګي، غږیز بدلون، نحوي بدلون او مانیز بدلون پکښېږي شامل وي او باندني بدلونونه (External Changes) چې د (کلمو زوړوالی، پورویېونه، هجرت یا کډوالي، یرغلونه او تیري، نیولوجیزم، ګنډبیزه ټولنه، ژبنی سیاست، ژباړه او رسنۍ) پکښېږي شاملې دي.

## وړاندیزونه

پښتو ژبه په بېلابېلو برخو کښېږي د ګاونډیو او نړیوالو ژبو له فرهنګي یرغل سره مخامخ ده، که دې ګواښ ته پام ونه شي، پښتو ژبه په بېلابېلو برخو په ځانګړي ډول د کلمو په برخه کښېږي له پراخو بدلونونو سره مخامخېدونکښېږي ده او دا چاره ډېر په قوت روانه ده.

د ژبې داخلي بدلونونه یوه ژبه یو مخ له بدلون سره نه مخامخوي، خو د

ژبې د بدلون باندني لاملونه خورا ډېر ژر پر ژبو اغېز کوي، پکار ده د سالم ژبني سیاست له مخې په پښتو ژبه کښې د داسې پېښېدونکو بدلونونو مخه ونیول شي، چي هغه ژر یا په ځنډ سره په پښتو ژبه کښې ژبني بدلونونه رامنځته کوي.

که ژبني تو پیرونه بابیزه وګڼل شي، په ژبه کښې بدلونونه رامنځته کېږي، که د بدلونونو د مخنیوي لاژم تدابیر ونه نیول شي، نو د ژبو ژبني تحول ته لار پرانیزي، چي په ژبني تحول کښې ژبه یا له منځه ځي او یا ترې په میراث نورې ژبې پاتې کېږي، نو پکار ده چي علمي او اکاډمیک مرکزونه د ژبنیو پلانونو په مرسته په دې برخه کښې د پښتو ژبې د ودې او هغې ته د ورپېښېدونکو ګواښونو د مخنیوي بنسټیز پروګرامونه برابر کړي.

حوالې:

(1) ډېوېډ کرسټل. نخستین درسنامه ی زبان شناسي. ژباړن: راحله ګندمکار، نشر علمي، تهران، ۱۳۹۲ل، ۲۰۷ مخ.
(2) ډیوډ کرسټل. زبان چگونه کار می کند. ژباړن: علي ربیع، نشر علمي، تهران، ۱۳۹۳ل، ۴۹۷ مخ.
(3) مهرداد نغزګوي کهن. فرهنګ توصیفي زبان شناسي تاریخي، دویم چاپ، انتشارات علمي، تهران، ۱۳۹۴ل،۲۹۳ مخ.
(4) رؤف، پاریکهـ. لسانیات کښې بنیادي مباحث. سیټي بک پواینټ، اردو بازار کراچي، ۲۰۲۱م، ۱۷۷ مخ.
(5)David Crystal. The Penguin Dictionary of Language. Second edition, Penguin books, London, 1999.
(6) رؤف، پاریکهـ. لسانیات کښې بنیادي مباحث، ۱۷۹مخ.
(7) David Crystal. The Penguin Dictionary of Language. Second edition,
(8) محمد عثمان، څولیزی. عمومي ژبپوهنه، جهان دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۹ل، ۱۹۵ مخ.
(9) محمد قسیم، چمتو. تشرېحي ژبپوهنه، څلورم چاپ، جهان دانش خپرندویه ټولنه،کابل، ۱۳۹۸ل، ۸۳ مخ.
(10) مجاور احمد، زیار. د ژبپوهنې بنسټونه او پښتو پښویه، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۸۲ل، ۳۹ مخ.
(11) علي محمد حقشناس. آواشناسي، اتم چاپ، موسسه انتشارات اګاه، تهران، ۱۳۸۲ل، ۱۵۶ مخ.
(12) محمد عثمان، څولیزي. عمومي ژبپوهنه، ۱۹۶ مخ.
(13) علي محمد حقشناس. آواشناسي، ۱۵۹ مخ.
(14) محمد عثمان، څولیزي. عمومي ژبپوهنه، ۱۹۱ مخ.
(15) ډیوډ کرسټل. زبان چګونه کار می کند ، ۳۲۵ مخ.